الله جل جلاله فرمايلي: اې د آدم زويه! (د الله جل جلاله) په لاره کې لګښت (انفاق) وکړه، چې زه پر تا انفاق وکړم، (يعنې پراخي درباندې راولم)

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الله جل جلاله فرمايلي: اې د آدم زويه! (د الله جل جلاله) په لاره کې لګښت (انفاق) وکړه، چې زه پر تا انفاق وکړم، (يعنې پراخي درباندې راولم)».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمايلي دي: اې د آدم زويه! کومې نفقې چې درباندې واجب دي او يا دې په حق کې مستحبې دي - نو وريې کړه؛ زه به پر تا پراخي راولم او په بدل کې به يې عوض درکړم او برکت به درته پکې واچوم.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5805